# د سیف الرحمان سلیم عشقیه شاعري

**The color of love and affection in the poetry of Saif ur Rahman Saleem**

Dr. Nasrullah Khan*
Dr. Abaseen Yousafzai**

**Abstract**

Saif ur Rahman Saleem is one of the renowned poet of Pashto. The style of saleem is unique in his expressions. The way he express the different emotional feelings is one of the natural and original style of Saif. In this paper we are going to describe the emotional aspects of universal truth of love and affection. The way saif express the emotions is not only for the beloved he loves but also for the whole human beings, the feelings are same. He expressed his feeling in such a way that everyone can feel it in his own way.

**Key words:** style, expressions, emotional, feeling, Affection, natural and original.

له پخوا نه د شاعرۍ ډېره ستائنه او غندنه شوې ده ولې شاعري یو داسې منلے شوے فن دے چې په ټولو زېبا هنرونو فؤقیئت لري. لکه د مثال په توګه د موسیقۍ نه هغه بندیان خوند او مزه اخستلے شي چې په غوږونو روغ وي، کاڼۀ نۀ وي. دغه شان د بت تراشۍ، مصو رۍ او نقاشۍ مثال هم دے چې د ړندو د پاره دغه هنرونه هېڅ حېثیت نۀ لري، خو شاعري یو داسې سپېځلے ارټ دے چې هر قسم انسان ترې خوند او مزه هم اخلي او مستفید کېدے ترې هم شي.

"شعر انسان کی دانش ہے، وہ معارفِ انسانی کا ترجمان ہوتا ہے، اور معارفِ انسانی کا راز حقیقتوں کی میمونیت میں مضمر ہے. شعر، عقلِ انسانی کی ایک حسّی اور فنّي تعبیر کا نام ہے، وہ دنیا سے بیزاری کا اعلان نہیں کرتا، بلکہ مسائلِ حالات سے بحث کرتا ہے، وہ عمل اور ردِ عمل کے اویزش ہے.... شعر کی دنیا حقیقت کی دنیا ہے. اس کا حُسن فطرت، ازل، اور کائنات سے عبارت ہے[۱]۔"

تاریخ ګوا دے چې شاعرۍ د معاشرې، ملک او قام په زوال و عروج کښې ډېر انقلابي لاس لرلے دے. د مثال په توګه د ایتهنز او مګاره په سېلمس جزیرې له مودو راسې جنګ روان ؤ چې ایتهنز به برابر شکست خوړلو. تر دې چې د همېشه د پاره د جنګ نه لاس په سر شول او دا فېصله ئې وکړه که

* Assistant Professor ,Department of Pashto,ICP
** Chairman ,Department of Pashto ICP

چا د جنګ نوم په خُلهٔ واخستلو هغهٔ به قتلولے شي. د یورپ مشهور قانون دان سولن د خپلو غېرت انګېز شعرونو په واسطه خپل قوم سر دوباره د دې قابل کړو چې:

"اسی وقت سب نے ہتھیار سنبھال کر سولن کو سپاہ کا سردار اور حاکم مقرر کیا اور سب کے سب ماہی گیروں کی کشتیوں میں سوار ہو کر سیلس پر چڑھ گئے. آخر جیسا کہ تاریخ میں بتفصیل مذکور ہے جزیرۂ سیلس پر قابض ہو گئے اور دو شمنوں میں سے بہت قید ہوئے اور باقی تمام مال واسباب چھوڑ چھوڑ کر بھاگ گئے [۲]."

حُسن ،عشق اؤ شاعري داسې درې توکي دي چې د یو بل نه ئې بېلېدل ګران دي. که حُسن نهٔ وے عشق به نهٔ وے او که عشق نهٔ وے نو شائد شاعري به هم په وجود کښې نهٔ وے راغلې. عشق د هر شاعر د خوښې موضوع پاتې شوې ده. چې په کومه شاعرۍ کښې عشقیه کلام نهٔ وي نو خلق ئې نهٔ خوښوي ځکه چې دا جهان په عشق ولاړ دے، په عشق ودان دے د دې ټول جهان هم دغه عشق کار ساز اؤ پلار دے ځکه خو رحمان بابا وئیلي دي

"دا جهان دے خدا ے له عشقه پېدا کړے
د جمله ؤ مخلوقاتو پلار دے دا [۳]"

په دنیا کښې دا ټولې هنګامې د حُسن اؤ عشق له وجې ګرمې دي اؤ دا هم یو منلے شوے حقیقت دے چې عشق د حُسن نه پېدا کېږي چې د دې خبرې پخلے خوشحال بابا هم کوي

"زهٔ له عشقه خبر نهٔ یم چې عشق څهٔ دے
هومره اؤرم چې له حُسنه ئې اثر دے [۴]"

دغه رنګ د پښتو جدیدې شاعرۍ نوموړے قام پرست، مقصدي، ترقي پسند شاعر سېف الرحمان سلیم چې د اپرېل په وړومبۍ نېټه په کال ۱۹۲۹ء کښې د داؤدزو تپې په ګلوزو نومې کلي کښې د خدائي خدمتګار تحریک د یو سر ګرم غړي سید جلال شاه په کور کښې دې فاني دنیا ته تشریف راوړے ؤ. سلیم هم د حُسن و عشق په حقله خپل دریز وړاندې کوي چې

"حسن خو رنګ نهٔ لري اشنا بحثونه مه کوه
خوبنه د مجنون ده لېلي توره ده که سپینه ده [۵]"

په حقیقت کښې عشق د حُسن نه پېدا کېږي، چې یو افاقي حېثیت لري اؤ چې کله په بنیادم دغه جذبه حاوي شي نو بیا هغه په قسما قسم حالاتو کښې راګېر شي.
په انسان قسما قسم کېفیتونه راولي سلیم دغه کېفیات بیانوي چې

"د ژوند خندا مې ځواني مرګه شوله
وخت مې د غم د زلميتوب راغلو
شونډې مې يو بل ته ورغاړه وتې
لفظ چې پرې ستا د مئنتوب راغلو[۶]"

عشق يوه داسې جذبه ده چې انسان اسمانونو ته رسوي. د عشق داسې پاکه اؤ سپېڅلې جذبه ده چې انسان اور ته اچوي.عشق د انسان روح دے اؤ د روح وظيفه ده. ځکه خو د عشق موضوع په ادب کښې اؤ په خصوصي توګه په شاعرۍ کښې ډېره بيانولے شي. سليم هم يو عاشق ؤ په حُسن مئين ؤ.حُسن ئې خوښ ؤ. د حُسن پرِستار ؤ. دا حُسن چې به هغۀ ته په هر څيز کښې جلوه ګر کېدو هغه به پرې سم د واره زړۀ بائللو لکه چې وائي.

"پرِستار يمه د حُسن چې هر څۀ کښې را احساس شي
که رُخسار وي د ګُلرخو که نغمه کښې وي که ساز کښې[۷] "

عشق يوه داسې ځانله اؤ بېله دنيا ده چې د دې په اثر کښې څوک راګېر شي نو بيا هغه نۀ په مال وي نۀ په سر وي نۀ په دين وي نۀ په دنيا وي اؤ نۀ د ننګ اؤ ناموس پروا کوي ځکه چې عشق څۀ وائي اؤ څۀ غواړي، هم هغۀ به عاشق کوي. د عشق په حقله مير عبدالصمد ليکي:

*" عام اصطلاح میں عشق اسے کہتے ہیں کہ ایک شخص دوسرے انسان (کسی جنس کی صورت میں) کے ظاہری حُسن، خدوخال، جوانی، قدو قامت یا نازواداپر فریفتہ ہو جائے اور ہر وقت اس کی محبت اور تصور میں گم رہے. اس کا وصل حاصل کرنے کی نہ صرف خواہش رکھے بلکہ اس کے لیے جستجو اور جدوجہد بھی کرے یہ ایک قلبی تعلق اور دلی لگاؤ ہوتا ہے جو ایک انسان کے دوسرے سے پیدا ہو جاتا ہے[۸]۔"*

سيلم هم په عشق کښې ډوب شوے دے اؤ ټول بند بړونه ئې مات کړي دي ولې بيا هم ورته خپل محبوب د شک په نظر ګوري لکه چې خپل دغه راز پاش کوي

"ننګ ناموس مې درنه ځار کړل خو نا شکره
لا تر اوسه دې زما په مينه شک دے[۹]"

عاشق تل د معشوق په عشق کښې ناقلاره وي. د عشق جذبه ئې قلارې ته نۀ پرېږدي زړۀ ئې غواړي چې هر وخت د معشوق ديدار وکړي. دغه رنګ سليم ته هم خپل زړۀ په سوالونو سر دے چې د يار کوڅې ته لاړ شه چې ما ته لږ قرار نصيب شي سليم ورته جواب ورکوي اؤ د يار بې عزتي نۀ شي برداشت کولے.

"زړګیه صبر شه زۀ نۀ ورځم کوځې پورې
رنګ رنګ خبرې به بیا کېږي په هغې پورې"[۱۰]

اؤ بیا ځان اؤ زړۀ ته مخاطب کېږي چې:

"عاشقي خو د لېلا نه ځاربېدل دي
مینه مه غواړه مجنونه په بدل کښې"[۱۱]

مینه یوه داسې بیماري ده چې د دې علاج د طبیبانو اؤ حکیمانو د وس کار نۀ دے دا بیماري چې یو ځل د چا په بدن کښې خوره شي بیا ئې جوړېدل ګران کار دے. په ډېر لوئې قسمت به ترې نه خلاصېدل ممکن وي. ولې بل طرفته مینه یو ډاډ دے. د مئین د پاره حوصله ده د صبر اؤ زغم پېدا کولو یوه زبردسته آله ده ځکه خو سلیم وائي.

"زۀ چې پرې مئین شوم نو بې شرطه مئین شوے یم
دا شرط په کښې نۀ ؤ چې هغۀ به هم زما مني
مینه یو مرض دے چې مئین ته حوصله بخښي
دا ئې غټ کمال دے چې دارو اؤ نۀ دعا مني"[۱۲]

سیلم د حُسن اؤ جمال شاعر دے په داسې حُسن ئې ذړۀ بائللے دے چې هغه د سلیم خبرې نۀ مني ځکه خو ځان ته مخاطب کېږي چې

"سلیمه" ستا به هغۀ څۀ اومني
هغۀ د خدائې اؤ د رسول نۀ مني"[۱۳]

ولې د دې هر څۀ باوجود سلیم خپله مینه نۀ پرېږدي د محبوب ټول غمونه زغمي اؤ ټولې غلطۍ ورله په روڼ تندي معاف کوي لکه چې وائي

"ما معاف کړې دي هغۀ ته د هغې غلطۍ
نورې څۀ نۀ خو د دروغو د وعدې غلطۍ"[۱۴]

سلیم د مینې کېفیت بیانوي چې مینه څنګه کېږي د څۀ له وجې پېدا کېږي اؤ دا ټول کمال په بدن کښې د کوم اندام دے لکه چې وائي

"لړې دا سترګې دي قبضه کښې ساته
په رڼا ورځ ئې را نه غلا وکړه"[۱۵]

ګنې د سلیم خو دا خیال ؤ چې زۀ به د زړۀ سره صلا مشوره کووم خو:

"تا خو مې زړۀ په يو نظر کښې يوړو
ما خو لا وې زۀ به صلا کوومه[۱۶]"

او چې کله ترې محبوب د زړګي غلا کړې ده نو بيا ئې په سليم ځان غلے کړے دے. ولې بيا هم چې کله سليم محفل ته ورغلے دے او د محبوب پرې سترګې لګېدلې دي نو زړ ئې ورته شا کړې ده چې هسې نه سليم را باندې پوهه شي چې ستا زړۀ خو زما سره دے. سليم ورته په ډاډه زړۀ وائي.

"چې دې ولېدم محفل کښې نو تا شا کړه
نن ځرګنده دې په خپله د زړۀ غلا کړه[۱۷]"

د سليم محبوب ډېر ښائسته دے. هر چا ته خپل محبوب ډېر ښائسته ښکاري. د سليم محبوب چې کله باغ ته د چکر په نيت تلے دے نو هلته نظره شوے دے. سليم ئې غم نۀ شي برداشت کولے او داسې خبرې ئې د خلې نه راخېژي چې.

"سترګې د اوړ سترګو غونچو ځان ته شه
تللې وه باغچې ته د نظره شوه[۱۸]"

په عشق کښې د عاشق ګرېوان تل په اوښکو لوند وي. د ډېره سوختنه د عاشق ګرېوان شلېدلے وي. نۀ د ځان نه خبر وي نۀ د جهان نۀ خبر، بس د خپل محبوب په فکرونو کښې ډوب وي ځکه چې: " مينه پلِ صراط دے، د مينې دا لار بې شمېره ګړنګونه، لوړې، ژورې، سختۍ او کړاوونه لري. د ادم په خمير کښې که عشق دے نو د دۀ خاوره هم د دردونو او غمونو په اوبو اخښلې شوې ده[۱۹] ـ"

دغه شان حالات په سليم هم راغلي دي او دا وېره ئې په زړۀ کښې ده چې.

"ما سره غم شي چې خندا راشي
هسې نۀ بيا چرته ژړا راشي
او بيا محبوب ته داسې هم وائي چې
زما ګرېوان ته ولې ګوته نيسې
هسې نۀ داسې وخت په تا راشي[۲۰]"

په مينه کښې عاشق نۀ په مال وي، نۀ په سر وي. د محبوب د يو نظر وصال د پاره هر څۀ په داؤ لګولو ته تيار وي ځکه چې د مينې جذبه دومره زوره وره وي چې څۀ عاشق ته وائي عاشق ئې فرمانبردار وي. سليم هم خپل محبوب ته په تحفه کښې خپل مال او سر لېږلے دے ولې محبوب

ئې تحفه نۀ ده قبول کړې سليم دغه حالات بيانوي او ائنده د پاره د توبې طلبګار دے چې

" لا د مينې ازمېښتونه ئې باقي دي
چې تحفه د سر ومال ئې راستنه کړه
د يے مخو يارانې ته مې سلام دے
که قبوله مې خدائې دا ځلې توبه کړه[۲۱]"

خو کله چې د سليم محبوب هغۀ خفه کړي او د خپل در نه د وتلو حکم ورته وکړي نو سليم ئې په سر سترګو قبول کړي ځکه چې:

" حُسن وعشق د هغه چا سرونه ټيټ کړي دي د چا د توري درَز به چې په ټوله دُنيا خور ؤ او د هغه باشاهانو سرونه ئې سر په سجده کړې دي چې د خپل سلطنت په غرور کښې به ئې د ربوب يت لوې لوې دعوې کولې.... حُسن او عشق په هر وخت او هر ځاے کښې په خلقو خپله سکه منؤدلې ده، که په فرهاد ئې غرونه سُوري کړي دي نو قيس مجنون ئې د نجد په صحرا کښې په ګرمو شګو څملولے دے او په چا ئې خپل ملک او وطن پرېښؤدے دے نو ډېر ئې د باشاهئ نه ملنګئ ته کښېنولي دي[۲۲]۔"

خو بيا هم په عشق کښې لېونے سليم د خپل جفاکار او بې وفا محبوب نه دا طمع لري چې:

"هسې که هر طرف ته ګورم که هر خوا ته ګورم
د زړۀ په سترګو خو زړګيه زۀ هم تا ته ګورم
وائمه ګوره که تۀ ووائې چې ببرته راځه
زۀ په قدم قدم ودرېږمه شا شا ته ګورم
هم دا لحظه ده ځۀ چې يو بل ته ځېر ځېر وګورو
بيا به تۀ چا ته ګورې ګُلې زۀ به چا ته ګورم[۲۳] "

د سليم کمال دا دے چې ښنګه د يو ښيز حُسن ووينې هم هغه رنګ نقشه ورله لکه د يو ماهر مصوّر د ټکو په ذريعه راکاږي. سليم راز ئې شاعرئ ته دا سې ګوته نيسي." د سليم د شعر رنګ و آهنګ غالب او حاوي دے. د هغوي مخصوص لهجه، اسلوب، لفظيات، ترکيبات، تشبيهات او استعارات خپله پېژندګلو پخپله کوي چې نۀ يوازې د فن د نقادانو سترګې ئې ځان ته راړولې دي بلکې د عامو خلقو زړونه او ځانونه ئې هم په خپل ساز په درزا او نڅا ساتلي دي....حُسن، مينه، طبقه، سماج، قام او ژوند په يو زړۀ کښې راغونډ څۀ څۀ غوښتنې او

پوښتني کوي، هم دغو غوښتنو او پوښتنو ئې فکري کېنوس وسیع کړے او په شاعرۍ کښې ئې حُسن، زور، تنوع او تفکر پېدا کړے دے[۲۴]۔
عاشق مدام د خپل محبوب په فکرونو کښې سرگردانه وي. په خیالي دُنیا کښې مست د محبوب وصال له په خیالونو کښې لارې گودرې لټوي. د خُوږ زړګي د تسلۍ له پاره ورسره په فکرونو کښې ملاقات کوي او په دغه چل ول خپل زړۀ له دوکه ورکوي. سلیم د خپل زړۀ حال په مجسّم انداز کښې بیانوي چې:

"تا ته به هم کله یادېږم ځان له زړۀ ښۀ کووم
تا نه به ولې زۀ هېرېږم ځان له زړۀ ښۀ کووم
ستا د راتلو لوظونه ښۀ دي چې ډاډۀ مې ساتي
ستا په لوظونو چې غولېږم ځان له زړۀ ښۀ کووم
تۀ په دې نۀ راځې خو زړۀ مې دلته بیا راولي
زۀ چې ستا لاره کښې ودرېږم ځان له زړۀ ښۀ کووم[۲۵]"

سلیم د محبوب راتلو ته سترګې په لار لېواله ناست وي محبوب ئې هم د وصال وعده کړې وي. د وصال فکرونو اخستے وي، اچانک ئې زړۀ په درزا شي نو زړۀ ته وائي

"خدایه! چې هېره ترې وعده خو نۀ ده
ما سره لږه تلوسه خو نۀ ده
زړګیه څۀ ته په ټوپونو شولې
دا خو ئې خیال دے څۀ هغۀ خو نۀ ده[۲۶]"

خو چې کله ئې محبوب وعده ماته کړې ده. د عشق په کاروبار کښې اکثر هم داسې شوې دي او کېږي. دغه شان چې د هغۀ محبوب نۀ دے راغلے نو ورته وائي:

"د وعدې په ماتېدلو دې خفه شوم
خپل شوګیر باندې قسم دے که خفه یم[۲۷]"

دا دُنیا په ضِد روانه ده لکه شپه او ورځ، دروغ رښتیا، ژړا خندا او جفا وفا وغېره په ژوند کښې روزانه پېښېږي. سلیم د یار هر تهمت او هر الزام قبول کړے وي خو د یار دا یوه خبره ئې بلکل په زړۀ نۀ جوړېږي چې:

"ستا په مینه کښې مې هر تُهمت قبول کړو
تهٔ چې وائې بې وفا ئې دا الزام دے
د زړهٔ وینې ستا غمونه ډېر فکرونه
میئسر راته قفس کښې هر طعام دے[۲۸]"

عاشقي په غلا غلا نهٔ کېږي عشق چرته هم نهٔ پټېږي. په دې راز فاشې کښې ډېر لاس د عاشق پخپله وي. زېړ رنګ، ببر سر، څېرې ګرېوان، سرې سترګې، ترمې اوښکې او ساړهٔ آهونه تل د عاشق عشق رسوا کوي. دغه معامله د سلیم سره هم شوې ده.هغه حېران دے چې:

"یا اوښکې شوې غمازې یا ساړهٔ ساړهٔ آهونه
څرګند چې مې دُنیا ته شُو د مینې پټ رازونه[۲۹] "

هم دغه ژړا او ترمې اوښکې دي چې عاشق په اولس کښې د خندا کوي. دغه حادثه د سلیم سره هم شوې ده نو بیا د ځان سره ګونېږي چې

"په ژړا دې ځان رسوا کړو ټول عالم کښې
ګونګه مینه درته چا وې چې ګویا کړه[۳۰]"

سلیم د عشقیه شاعرۍ هر مضمون ډېر په هنر او استاذۍ بیان کړے دے د مینې هره لمحه او لحضه ئې د قلم څوکې ته سپارلې ده لکه چې کله د سلیم حیا ناک محبوب خپلې منږرۍ زلفې ږمنزوي نو هغهٔ ورته التجا کوي چې:

"د شانې غاښونه خیال کوه تېرهٔ دي
آرمانونه مې ستا زلفو کښې اودهٔ دي"

سلیم ئې حُسن ته د ټېنګې نهٔ دے ولې بل اړخ ته دواړه پښتانهٔ دي د حیا او پردې بندېز هم نهٔ شي ماتولے نو:

"خپل لاسونه مې بوسه کړو، خو حیا نه
اننګي د هغې اوسه پورې سرهٔ دي[۳۱]"

واعظ، ناصح او زاهد د عشقیه شاعرۍ بهٔ زړهٔ پورې مضمون له پخوا نه راروان دے. تل عاشقان د واعظانو، ذاهدانو او ناصحانو نه فریاد کوي ځکه چې په عاشق د هغوي خبرې ښې نهٔ لګي. د واعظانو وعظونه عاشق ته د مرګ پېغام ښکاري. واعظ چې د عاشق نه کومه طمع لري عاشق هغه نهٔ شي کولے. واعظ عاشق د محبوب د کوځې نه منع کوي چې دغه د عاشق سره په

جار دُشمني کوَل وي.سليم ورته وائي

"تا ته خو څۀ نۀ وائم واعظه! زۀ خپل زړۀ خورمه
ستا ډېرو وعظونو مې واعظه! مازغۀ اوخوړل[۳۲]"

ولې بيا هم چې واعظ ناروغه شوے دے نو سليم ئې خفه کړے دے ورته وائي

"که مې شل ځله ناخوښه ئې واعظه!
چې خبر شومه ناروغه ئې خفه شُوم[۳۳]"

د سليم محبوب لافاني حُسن لري ولې ښکُلي تل بې وفا وي د سليم محبوب هم بې وفا دے نو الله پاک ته د شعر په خوږه ژبه مخاطب کېږي چې

تا چې دا حُسن او ادا ورکړه
خدايه! لږ خوئي هم د وفا ورکړه

او بيا د خپل ښائسته محبوب د ښکُلې خندا نقشه د خپل ځانګړي اسلوب په نوکه لکه د پوهه مصوّر په برش داسې جوړوي چې

د يار په سرو، نرو، نازکو شونډو
خندا اودۀ شوه که ئې سا ورکړه[۳۴]؟

رقيب او غماز هم د عشقيه شاعرۍ يو جوت مضمون دے. مينه کښې رقيبان او غمازان تل خنډونه جوړېږي چې د عاشق په ژوند اور لګوي. دغه شان د سليم په ژوند کښې هم د هغۀ د محبوب په ډاډ او صلا رقيب د لارې خنډ جوړېږي نو سليم ورته وائي:

"رقيب خو ما ته پاس کتلے نۀ شُو
دا حوّصله ورله اوس تا ورکړه[۳۵]"

سليم چې څنګه پخپله ځيګ پښتون ؤ دغه شان ئې مينه هم پښتنۀ وه.هغۀ د مينې محبت د پټو رازونو نه خبر ؤ چې: "د مينې او محبت عالمګيريت مسلم دے او هېڅوک دا دعويٰ نۀ شي لرلے، چې د دُنيا مقصدي کارونه د مينې او محبت د سوز او ساز نه بغېر چرې سر ته رسېدلي دي....عشق خو هغه پاکه او مقدسه جذبه ده، چې د دې په برکت انسان د ځناورتوب د ژورو نه د انسانيت معراج ته خيژي....د دۀ لاره کښې ناممکن نۀ وي، غرونه، دريابونه، سيلۍ، ږلۍ، موجونه او طوفانونه د دۀ لار نۀ شي بندولے او نۀ د دۀ اراده کښې چرې کچه والے راځي[۳۶]"۔

ځکه خو سليم په مينه کښې د سر هېڅ پروا نۀ کوي. د سر قربانول ورته لوبه ښکاري او په جار

اعلان کوي چې:

"اوس به د تيارو ملګري څنګه ما ګمراهه کړي
اوس چې مې رهبره روښنائي د تندرونو شوه
څوک رانه ګټلے شي ستا مينه اوس به اوګوري
اوس خو دې آسانه کړه چې لوبه په سرونو شوه[۳۷]"

سليم يو عشقيه او روماني شاعر ؤ. د محبوب په عشق کښې اخري مقام ته رسېدلے ؤ چرته چې د عاشق او معشوق تر مېنځه پوله ورکه شي او دواړه يو وجود شي. ناست او ولاړ ئې عبادت شي. په هر څۀ کښې ورته خپل محبوب ښکاره کېږي. دا هغه مقام دے چرته چې منصور د اناالحق نعره اووهله او په دار شو. سليم هم د خپل مجازي محبوب په عشق کښې فنا شوے دے وائي.

"چاته به څۀ چاته به څۀ ښکارې
ماته خو ګله زما زړۀ ښکارې
ځان رانه ورک شي چې زۀ تا سره يم
ځان ته چې ګورم راته تۀ ښکارې[۳۸]"

غرض دا چې د سېف الرحمان سليم عشقيه شاعري په تول پوره ده.

د مجازي عشق ټول لوازمات ئې بر محل پکار کړي دي لکه د حُسن و عشق زور او دبدبه، د رقيبانو غمازانو شتون، د ذاهد، مُلا، ناصح او واعظ وعظونه. د محبوب بې روخي، وعده خلافي او تکبّر وغېره ئې په داسې ماهرانه او فنکارانه طريقه استعمال کړي دي چې لوستونکي او اورېدونکي ورته ګوته په خُلۀ پاتې کېږي. د سليم شاعري د هر دردېدلي عاشق د زړۀ ساز او اواز دے، ترجماني ده، د عاشق د پاره ډاډ دے، ځکه خو د پښتو په جديده شاعرۍ کښې يو امتيازي حېثيت لري.

## حوالې


۱. وقاراحمد رضوی' *نظرات' مکتبۂ دانیال' کراچی' باراول* ۱۹۷۲ء ص ۷۵
۲. *الطاف حسین حالی' مقدمہ شعرو شاعری' زاہد بشیر پرنٹرز' لاہور*، ۲۰۰۱ء مخ ۱۵
۳. سید رسول رسا، د عبدالرحمان بابا دیوان، یونیورستي بک ایجنسي، خېبر بازار، پېښور، ۱۹۷۲ء مخ ۱۵
٤. ډاکټر یار محمد مغموم، د خوشحال کلیات، یونیورستي بک ایجنسي، خېبر بازار، پېښور، ۲۰۱۲ء مخ ۷۹۲
۵. سېف الرحمان سلیم، د وړو وړو خدایانو دې بنده کړم، یونیورستي پبلشرز، افغان مارکېټ، قیصه خواني بازار، پېښور، مارچ ۲۰۰۸ء مخ ۸۸
۶. سېف الرحمان سلیم، د وړو وړو خدایانو دې بنده کړم، مخ ۳۸
۷. هم دغه مخ ۱۸۰
۸. *میر عبدالصمد' رحمان بابا شاعرِ انسانیت' مکتبۂ شاہین' خیبر بازار پشاور' طبع نومبر* ۱۹۷۴ء مخ ۱۲۴
۹. سېف الرحمان سلیم، د وړو وړو خدایانو دې بنده کړم، مخ ۶۵
۱۰. هم دغه مخ ۱۴۳
۱۱. هم دغه مخ ۱۴۳
۱۲. هم دغه مخ ۱۴۳
۱۳. هم دغه مخ ۱۴۳
۱٤. هم دغه مخ ۱۴۳
۱۵. هم دغه مخ ۱۴۳
۱٦. هم دغه مخ ۱۴۳
۱۷. هم دغه مخ ۱۴۳
۱۸. هم دغه مخ ۱۴۳
۱۹. رحمان پوهنه، رحمان ادبي جرګه پېښور، د رحمان بابا عشق از پروفېسرمحمد یعقوب، ۱۹۹۳ء مخ ۲۰۷
۲۰. سېف الرحمان سلیم، د وړو وړو خدایانو دې بنده کړم، مخ ۱۳۰

۲۱. هم دغه مخ ۹۱
۲۲. هم دغه مخ ۹۱
۲۳. خواجه محمد سائل، عبدالحميد بابا، عظيم پبلشنګ هاؤس،خېبر بازار، پېښور، ۱۹۵۸ء مخ ۱۲۲، ۱۲۱
۲٤. سيف الرحمان سليم، د وړو وړو خدايانو دې بنده کړم، مخ ۱۷۹
۲۵. همدغه ، مخ ۱۷۹
۲۶. پښتونواله،پښتو نړيواله مرکه،پښتونخوا،مجموله مشموله،"سليم" د پښتو غزل وقاراو اعتبار از سليم راز،جنوري، دسمبر ۲۰۱۷ء مخ ۵۵،۵۴
۲۷. سيف الرحمان سليم، د وړو وړو خدايانو دې بنده کړم، مخ ۲۰۳
۲۸. هم دغه مخ ۱۲۷
۲۹. هم دغه مخ ۱۲۷
۳۰. هم دغه مخ ۱۲۷
۳۱. هم دغه مخ ۱۲۷
۳۲. هم دغه مخ ۱۲۷
۳۳. هم دغه مخ ۱۲۷
۳٤. هم دغه مخ ۱۲۷
۳۵. هم دغه مخ ۱۲۷
۳۶. پروفېسر فهيم دل راهي، عارف رحمان،جدون پرېس پېښور، ۱۹۸۲ء مخ ۹۵، ۹۲
۳۷. سيف الرحمان سليم، د وړو وړو خدايانو دې بنده کړم، مخ ۱۷۳
۳۸. هم دغه مخ ۱۳۴